SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

ځلورم کال ځلور شپېشمه ګڼه پرله پسې (۲۵٤) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادی الاول (۲۱) د ۱۳۷۸هـ ش کال د وږي دمیاشتې (۱۰) د ۱۹۹۹میلادي کال د سپتمبر (۱)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !،
همدا (عدل) ډېر نږدې دی
تقوا(پرهیزګاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بګذارید.

د مخالفینو تر ظلم لاندي سیمو کې،

د نامعلومو مسلحو افرادو لخوا د مسعود د پلویانو د وژلو هڅې پیل شویدي

د چاریکار د ده مسکین په کلي کې یو تن قوماندان تپي شوی دی

شریعت : د عیني شاهدانو په وینا ویل کېږي چي د مخالفینو تر ظلم لاندي سیمو کي د مسعود د پلویانو پر خلاف مسلحانه هڅې پیل شوي او وخت نا وخته نا معلومو مسلحو کسانو د نظار ډلګۍ پر قوماندانانو، پوېکوالو او پوځي پوستو حملې کړې دي.

د یوه عیني شاهد په قول چې اوس اوس له چاریکارو څخه راستون شوی ځرګنده شوی ده چي په شمالي کې زیاتره کلیوال مشران او عام خلک په دې عقیده دي چي مسعود او د هغه ډلګۍ د شمالي د خلکو د ستونزو او کړاوونو اصلي عاملین دي، د شمالي خلک اوس

دي نتیجې ته رسېدلي چي تر څو د مسعود بدنامه ملیشې له شمالي څخه وركې نشي شمالي ته کراري نشي راتلی، همدا دلیل دي چي په دې وروستیو وختو کې د پروان په هر کلي کې داسي ځوانان را پیدا شوي چي د شپې له تیارې څخه په ګټې اخیستو سره د

٤ مخ

د زابل ولایت مخابروي سیستم فعال شو

د عام المنفعه تاسیساتو د بیا رغاونې په لړ کي په دې وروستیو وختو کي د زابل ولایت مخابروي سیستم فعال او د استفادې وړ وګرځید.

د زابل له ولایت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د زابل ولایت مخابروي سیستم چي د تېرو رژیمونو د جګړو له امله ویجاړ او له استفادې لوېدلي و د افغانستان د اسلامي امارت د نیکو او خیر غوښتونکو سیاستونو له مخې په دې وروستیو وختو کي د زابل ولایت مخابروي سیستم د ریلې او تیلفون په ډول فعال او د استفادې وړ وګرځید چي د هغه په فعالېدلو سره د

٤ مخ

در نتیجه توجه و تلاشهاي مسؤولین وزارت زراعت :

فارم تحقیقاتي دارالامان دوباره احیاء و به بهره برداري سپرده شد

ساختمانها و تعمیر ذخیره تخم هاي اصیل زراعتي ان فارم نیز باز سازي و مجدداً اعمار ګردیده است

همچنان چندین چاه عمیق جهت آبیاري فارم متذکره حفر و با نصب واتر پمپ ها آماده بهره برداري ګردیده است

فارم تحقیقاتي دارالامان که به اثر جنګ هاي رژیم ګذشته به مخروبه بي مبدل ګردیده بود بالاثر توجه امارت اسلامي و تلاشهاي مسؤولین وزارت زراعت بار دیګر احیاء و به بهره برداري سپرده شده است.

یك منبع مسؤول وزارت زراعت به خبر نګار آژانس اطلاعاتي باختر ګفت : فارم تحقیقاتي دارالامان که از جمله فارم هاي ملي و بین المللي میباشد توسط پرسونل فني وزارت زراعت و همکاري مستقیم مالي و تخنیکي مؤسسه جرمن اګرو اکشن دو باره ترمیم و کار ترمیم و باز سازي آن ادامه دارد.

همچنان ساحه پنج هکتار زمین که قبلاً به شکل خندق و سنګر جنګ در دوران رژیم اداره ائتلافي در آورده شده بود دو باره پاك کاري و هموار ګردیده و جهت بذر غله جات آماده ګردیده است.

همچنان ساحه دو هزار متر مربع زمین که قبلاً ماین ګذاري ګردیده بود از وجود ماین پاك کاري و مورد استفاده قرار ګرفته است.

به همین ګونه ساختمانها و تعمیر ذخیره تخم هاي اصیل زراعتي دو باره اعمار ګردیده و مورد استفاده قرار ګرفته است. همچنان چاه هاي عمیق جهت آبیاري فارم متذکره حفر ګردیده و هکذا دو پایه واتر پمپ چهار انچ نیز به همین منظور نصب چاه هاي مذکور شده است.

منبع افزود : با توجه به ترمیم و باز سازي دو باره فارم تحقیقاتي دارالامان بیش از سي هکتار زمین آماده بذر ګردیده ساحه هجده و نیم هکتار زمین ګندم

ص ٤

شبکه ابرساني قریه ارګنه ولسوالي خروار ولایت لوګر تکمیل و به بهره برداري سپرده شد

شبکه آب رساني قریه ارګنه ولسوالي خروار ولایت لوګر که براي [illegible] نفر از اهالي آنجا آب صحي را تهیه و توزیع مینمایـد [illegible] تکمیل و عملاً به بهره برداري سپرده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : شبکه ابرساني ارګنه ولسوالي خروار ولایت لوګر از یك چشمه مرتفع سرچشمه ګرفته و به فشار طبیعي بطول

ص ٤

د ملګرو ملتو د امنیت شورا :

د کاسووا په غیر نظامي خلکو باندې هر ډول فشار وغانده

د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د کاسووا په غیر نظامي خلکو باندې هر ډول فشار وغانده.

د امنیت شورا چي د ملګرو ملتو د سازمان عالي ټولنه ده په خپلو خبرو کي ټینګار وکړ چي د یوګوسلاویا د

٤ مخ

د افغان نساجي عامل رئیس محترم قاري رحمن ولي «رحماني» په شریعت اوونیزې سره په مرکه کي:

د کابل د اوبدلو فابریکه او د کابل د نساجي د رنګ ورکولو فابریکه مو ترمیم او عملي فعالیت ته چمتو کړې ده

د افغان نساجي اوبدل شوی ټوکر په ارزانه او مناسبه بیه هیوادوالو ته ورکوو

د تیرو جګړو له امله افغان نساجۍ ته ۳۰ میلونه ډالره زیان وررسیدلی دی

د افغان نساجي سهامي شرکت د هیواد د یو لوی تصدیو څخه ګڼل کیده چي زمونږ په زرګونو تنه هیوادوال په کي په کار بوخت وو خو د تیرو جګړو له امله د یو زیاتمنه شوي او فعالیت یي په ټپه ولاړ و اوس بیا د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو مسوولینو د خاصې پاملرنې او د کانو او صنایعو د وزارت د هلو ځلو له امله یې ځنې فابریکې فعالي

شوي چي [illegible] په [illegible] پیل کړي [illegible] د دې نساجي د [illegible] او [illegible] په اړه د دې نساجي له عامل رئیس محترم قاري رحمن ولي «رحماني» سره مرکه کړې ده چي لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه : تر هر څه لومړي د شریعت اوونیزې لوستونکو ته ځان معرفي کړئ؟

ځواب : زه مې حافظ مولوي رحمن ولي [illegible]

[illegible] پاکستان په مختلفو دیني [illegible] د حفظ او تجوید اجری [illegible] دارالقرا [illegible] دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

٤ مخ

به سلسله مسابقات فتبال در ولایت فاریاب:

تیم فتبال پیروزي برنده شناخته شد

در دور سوم مسابقه تورنمنت فتبال که اخیراً بین هشت تیم فوتبال ولایت فاریاب برګزار ګردید مسابقه دو مقابل یك به نفع تیم فوتبال پیروزي خاتمه یافت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : مسابقه دور سوم تورنمنت فوتبال که اخیراً به اشتراك هشت تیم فوتبال ولایت فاریاب در میدان ورزشي پارك شاروالي آنولایت راه اندازي ګردیده بود در نتیجه مسابقه دو مقابل یك به نفع تیم فوتبال پیروزي خاتمه یافت.

براي تماشاي این مسابقه جالب و

٤ مخ

ترکیه اعلام کرده است :

تا اکنون ١٤ هزار و دو صد جسد از زیر آوار ها بیرون آورده شده است

در حالیکه از وقوع زلزله ترکیه مدت دو هفته میګذرد هنوز هم بر تعداد هلاك شده ګان این فاجعه افزوده میشود.

مرکز بحران زلزله ترکیه در شهر انقره پایتخت آنکشور اعلام کرده است که تا کنون چهارده هزار و دوصد جسد از زیر آوار ها بیرون آورده شده اند. متخصصین حدس میزنند که هنوز اجساد زیادي در زیر آوار هاي خانه هاي ویران شده باقي مانده اند.

زلزله شناسان تعداد تکانهاي زلزه هاي نسبتاً ضعیف دیګر را نیز در ترکیه ثبت کرده اند.

په امریکا کې ځلوېښت میلیونه کوچنیان د غربت ژوند کوي

واشنګټن : د امریکا د متحده ایالاتو په راتلونکو انتخاباتو کي چي بل کال به تر سره شي کاندیدانو ئې داني منوی تړي شروع کړي دي. د سي ان ان په وینا الګور د خپل انتخاباتي مهم په دوران کي د

٤ مخ

د کالیو پریمنځلو د صابون تر څنګ :

د شاکر سهامي شرکت د ځان مینځلو صابون هم بازار ته وړاندې کړ

نوموړي صابون د ډېر ښه کیفیت په درلودلو سره په ارزانه بیه هیوادوالو ته وړاندې کیږي

شریعت : شاکر سهامي شرکت د احمد صابون جوړولو فابریکي چي د څو کالو را پدېخوا درنو هیوادوالو ته د ملت په نوم د کالیو مینځلو صابون جوړوي اوس بي ددي تر څنګ د حمام یا ځان مینځلو صابون هم تولید او بازار ته عرضه

٤ مخ

ګزارش خبرنګار هفته نامه شریعت از شفاخانه صحت طفل :

همه مادران باید اطفال خویش را با شیر خود تغذیه نمایند

دکتورس نسرین «نهیب»

شفاخانه صحت طفل یکي از شفاخانه هاي مهم و مجهز اطفال در شهر کابل میباشد که این شفاخانه در سال ۱۳٤۵ هـ ش توسط ډاکتر حسین خان صدراعظم اسبق هند با ظرفیت صد بستر اساس ګذاشته شد.

در حال حاضر شفاخانه مذکور ظرفیت سه صدو شصت بستر را دارا بوده و داراي شعبات فعال چون جراحي عمومي، اورتوپیدي، داخله عمومي، وارد ساري وارد قي و اسهال، وارد مراقبت جدي، وارد کولرا، وارد نرسري، شعبه ګوش و ګلو، شعبه فیزیوتراپي، شعبه دندان، کارنر ORT (اداوي ضایعات مایعات از طریق دهن) و شعبه واکسین مي باشد.

خبرنګار هفته نامه شریعت از بخش ها و شعبات مختلف و مریضان این شفاخانه باز دید نموده و در زمینه ګزارشي را تهیه نموده است که خدمت تان تقدیم میکردد.

محترمه دوکتورس نسرین «نهیب» متخصص اطفال در وارد مراقبت جدي در جواب پرسشي تعداد مراجعین روزمره را چنین شرح دادند : اکنون نظر به احصائیه کتاب راجستر کلینیك روزانه در حدود ۱۵۰ - ۲۰۰ مریض به پولي کلینیك مراجعه مي نمایند که از جمله مریضان مراجعه کننده روزانه ۵۰ - ٦۰ مریض در وارد هاي مختلف داخل بستر مي شوند.

محترمه دوکتورس «نهیب» در جواب پرسش دیګر خبرنګار ما چنین معلومات ارائه نمودند : شفاخانه صحت طفل ایندیرا ګاندي را موسسات خارجي تا حدي از لحاظ ادویه و سامان آلات طبي کمك مینمایند. در رابطه به اینکه ما چه سهولت طبي را در شفاخانه براي مریضان فراهم نموده ایم قبل یاد آوري ایند که از جانب شفاخانه براي مریضان بستر و غذا رایګان بوده و تقریباً قسمت بیشتر ادویه مریضان از جانب شفاخانه داده مي شود.

همچنان راد یو ګرافي و معاینات لابراتواري از جانب شفاخانه به صورت رایګان اجرا میګردد و در اینده خیلي نزدیك به یاري خداوند (ج) براي تشخیص بهتر و خوبتر مریضان معاینات التراسوند یا معاینات تلویزیوني به صورت رایګان به دسترس مریضان قرار خواهد ګرفت.

دکتورس نسرین افزودند : طي چند ماه اخیر نظر به ګرمي هوا یګانه مریضي که در بین اطفال فوق العاده زیاد دیده شده که بد بختانه تلفات زیاد را هم را خود داشته

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

افغانستان و سازمان ملل متحد

از سرنګوني رژیم رباني در افغانستان سالها سپري شد ولي مشکل کرسي افغانستان در سازمان ملل متحد همچنان به حال خود باقیست و این کرسي همچنان در اختیار رژیم سرنګون شده قبلي قرار دارد.

اګر به تاریخچه سازمان ملل متحد و عملکرد هاي ګذشته این سازمان نظري بیاندازیم خواهیم دید که این نخستین باري نیست که این سازمان تحت فشار و نفوذ قدرتهاي بزرګ، اکثریت اعضاي یك ملت را یکسره نظر انداز نموده تا از رژیمي حمایت نماید که تابع امیال ابر قدرتهاي وقت بوده است.

جمهوري مردم چین دهها سال از عضویت در سازمان ملل متحد محروم بودند و رژیم حاکم بر تایوان با آن قلمرو محدود و نفوس اندك خویش از ششصد ملیون مردم چین در سازمان ملل متحد نمایندګي مي کرد در حالیکه آن ششصد ملیون

ص ۲

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکر»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل – افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

نفوس در تحت حاکمیت یك نظام مستقل و مخاصم با رژیم تایوان زندگي مي کردند . عین حالت اکنون در مورد کشور ما صادق است. در حالیکه بیش از نود در صد از خاك کشور تحت حاکمیت امارت اسلامي افغانستان قرار دارد و مخالفین حتي بر کمتر از ده در صد از بقیه کشور بصورت واقعي داراي تشکیلات دولتي نیز نیستند ولي سازمان ملل متحد همچنان کرسي افغانستان درین سازمان را در اختیار آنها نهاده است .

حتي اگر بخواهیم رژیم رباني را با رژیم حاکم بر تایوان در گذشته مقایسه کنیم مي بینیم که رژیم تایوان حد اقل در یك جزیره کوچك داراي تشکیلات دولتي منظم بود. سفارت خانه هاي بعضي از کشور ها درین جزیره وجود داشتند. طیارات خطوط هواي بین المللي به این جزیره رفت و آمد مي نمودند خلاصه تایوان ممثل یك دولت هر چند کوچك در سطح بین المللي بود که جهان غرب در صدد بود با کمك به آن این جزیره را از لحاظ اقتصادي در قطار کشور هاي پیشرفته خاور دور برساند و مردم جمهوري مردم چین با مقایسه سطح زندگي مردم تایوان با خویش بجاي آرزوي زندگي در کشور خود آرزومند زندگي در تایوان گردند.

اما وضع مخالفین امارت اسلامي چگونه است ؟ آنها در مناطق تحت کنترول شان بزور اسلحه حاکم اند درین مناطق نه از تشکیلات دولتي اثري وجود دارد و نه پایتخت و مرکز آنان مشخص است . حتي کشور هاي حامي آنان نیز دفتر و نمایندگي سیاسي در مناطق تحت کنترول آنها ندارند. طبیعي است که سفارت خانه ها و نمایندگي هاي سیاسي که در کشور هاي مختلف در اختیار مخالفین است نیز یکسره فلج و غیر فعال اند.

اما مخالفین امارت اسلامي از کمك هاي نظامي کشور هاي مداخله گر برخوردار اند نکته یي که از نظر سازمان ملل متحد پوشیده نیست در حالیکه سازمان ملل متحد بار ها این نکته را تایید نموده که مشکل ادامه جنگ در افغانستان مداخله خارجي است ولي هرگز بصورت جدي و قاطع به این پیشنهاد امارت اسلامي افغانستان پاسخ نداده است که چندین بار پیشنهاد نمود تا ناظران بین المللي در سرحدات افغانستان و میدانهاي هوایي مستقر گردند تا از ورود اسلحه به افغانستان جلوگیري بعمل آید. چرا سازمان ملل متحد نمي تواند این کار را انجام بدهد ؟

مشکل بزرگ سازمان ملل متحد اینست که این سازمان در مسئله افغانستان بیشتر از اینکه به شکل یك میانجي عمل کند در نقش یك (جهت) ظاهر شده است . سپردن کرسي افغانستان به نماینده رژیم رباني در حقیقت جانبداري سازماني را که باید بي-طرفانه عمل نماید زیر سوال مي برد.

تا زمانیکه کرسي افغانستان در اختیار رژیم رباني است آن رژیم در سطح بین المللي خود را در دریافت اسلحه و کمك هاي تسلیحاتي ذیحق خواهد شمرد و کشور هاي مداخله گر هم با-همین استدلال که آن رژیم هنوز هم در سطح بین المللي از قانونیت برخوردار است بخود اجازه میدهند تا به مخالفین امارت اسلامي کمك کنند. به این ترتیب ما شاهد یك تناقض آشکار در روش سازمان ملل متحد در مورد افغانستان هستیم. این سازمان در حالیکه از یکطرف خود را جانبدار بر قراري صلح در افغانستان مي داند از طرف دیگر با سپردن کرسي سازمان ملل-متحد به یك رژیم فاقد اعتبار و مشروعیت در داخل افغانستان این رژیم را در سطح بین المللي مشروع جلوه داده است. آیا این کار خود به رسمیت شناختن مداخله خارجي در افغانستان از جانب سازمان ملل متحد نیست ؟

اگر سازمان ملل متحد واقعاً خواستار ختم جنگ و برقراري صلح در افغانستان است باید در قدم اول در جهت قطع مداخله خارجي کوشش نماید . اصل بیطرفي درین راستا ایجاب مي-نماید که حد اقل سازمان ملل متحد با تعلیق عضویت افغانستان در سازمان ملل متحد در مقابل امارت اسلامي و مخالفین روش یکسان را به نمایش گذارد آیا این عمل سازمان ملل متحد به کدام معیار ها مطابقت دارد که نظامي را که در بیش از نود در صد از خاك کشور حاکمیت دارد و نودو پنج در صد از مردم افغانستان در تحت حاکمیت این نظام در صلح و امن به سر مي-برند بعنوان یك گروپ شناخته شود ولي رژیم ساقط شده یي که فاقد هر نوع مشروعیت ، قانونیت در سطح ملي و بین-المللي است هنوز هم در سازمان ملل متحد بعنوان نماینده مردم افغانستان برسمیت شناخته شود ؟ در اینجاست که این شك با همه قوت خویش مطرح میشود که آیا سازمان ملل متحد واقعاً و بصورت جدي قصد برقراري صلح را در افغانستان دارد و یا اینکه ...

منته !!

سړی نه پوهیږی د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر کارل اندر فورټ تو که کړی که له زړه نه یې دا خبره کړی : هغه ګامونه چې موږ اخیستی هدف یې د افغانستان خلک نه دی ، هغه ګامونه د اسلام پر ضد هم نه دی ، موږ هم د اسلام درناوی کوو ، هدف څه هیڅ رنګ دا نه دی چې د افغانستان کړیدلی خلک نور هم وکړیږی . د کارل اندر فورټ مطلب په دغه خبره کی د امریکی اقتصادی بندیزونه دی چې ښکاره پلمه یې اسامه بن لادن دی.

امریکا دغسی خبره د عراق په اړه هم کوی او د لیبیا په هکله هم . پر عراق د متحدینو د هوایی بریدونو د جواز له پاره هم دا ډول دلیل او پلمه وړاندې کیږی متحده ایالات چې پر عراق بمباری کوی وایی دغه بمباری د عراقیانو پر خلاف نه دی ، بلکې د صدام حسین پر خلاف دی ، خو په بمباریو کی عام عراقیان وژل کیږی او د اقتصادی بندیزونو له امله هم د عامو عراقیانو اولادونه د خوار ځواکی او درملو د نشتوالی له امله مری چې عراقیان یې جنازې پر اوږو ګرځوی او شعارونه ورکوی.

تر اوسه صدام حسین او د هغه د نږدې ملګرو پوزه هم نه ده وینی شوی او د هغوی په شاهانه خوراکونو کی هیڅ ډول کمښت نه دی لیدل شوی څو میاشتی د مخه چې بی بی سی د نړی د لسو تنو پانګوالو په اړه یو خبر خپور کړ په هغو کی شپږم مقام د صدام حسین و .

دغسی اقتصادی بندیزونو ته که هر ډول کمیس او پرتوګ ورواغوستل شی خو زور او فشار یې په ولس وی نه په واکمنو ، څکه خو ښایی له ښاغلی اندر فورټ سره هیڅوک هم دا خبره و نه منی چې د متحده ایالاتو هدف جګړو ځپلی افغانان نه دی ، لکه څنګه چې لیدل کیږی دد غسی بندیزونو اغیز تیغ په تیغه د افغانستان پر هغو وګړو دی چې پخپله اندر فورټ یې کړیدلی خلک بولی.

دا چې متحده ایالات د اسلام درناوی کوی که نه خو لدغه ټکی افغانان ښه خاطره نه لری خلقیانو او پرچمیانو هم پخپله

خبره کړی وی دوی په په رښتیا هم د افغانانو د جهاد له نتایجو ممنون وی خو خپله افغانان چا د خپل جهاد او قربانیو له پایلو خوند او ګټی اخیستو ته پرنښودل معنا دا چې جګړه او قربانی افغانانو ورکړه خو پایلی یې د متحده ایالاتو په برخه شوی چې شوروی اتحاد دړی وړی او امریکا د نړی د یواځینی زبرځواک پر ګدی کیناسته ، چی د متحده ایالاتو نیکمرغی او کمال او د افغانانو بدمرغی او خواره برخه ګنلی شی.

راغلو دې ته چې امریکا ځان د افغانانو پورورۍ ګڼی نو د دغه پور ورکړه خو افغانانو تیر کال : کروز توغندیو په برید کی ولیده ، د

متحده ایالات دی چې افغانستان او د افغانستان کړیدلی ولس یې د شوروی اتحاد له ړنګیدو وروسته هیر کړ او که یې کله په یاد شوی هم دی نو په کروز توغندیو او اقتصادی بندیز و تو یې نازولی دی.

د کارل اندرفورت یوه بله خبره د احمد شاه مسعود په اړه ده ، دی وایی احمد شاه مسعود څرنګه چې د جهاد د زمانی یو قهرمان و هیله ده د سولی قهرمان هم وګرځی .

په جهاد کی د احمد شاه مسعود قهرمانی له ښاغلی اندرفورت نه د شوروی لښکرو سر قوماندان جنرال ګروموف ډیره ښه څلولی چې څرنګه یې له شورویانو سره د سولی تړون لاسلیک کړ څه وړ شورویانو د جدی شپږمی له برغل د مخه ده ته خبر ورکړی و .

په میاشت کی یې څومره پوره ، اوړه او نور خوراکی مواد ورکول او ... جنرال ګروموف په ډیرو روښانه ټکو کی د ښاغلی اندرفورټ د جګړی قهرمان معرفی کړی دی د ښاغلی اندرفورت په رښتیا هم د افغانستان په اړه چندانی معلومات نه لری ، دا دده خپل اعتراف دی. دی پخپله وایی چی موږ د طالبانو د

غورځنګ په باره کی چندانی معلومات نه لرل او کتل مو چی څه کیږی ، طالبان څوک دی، سوله او ثبات به څنګه راولی؟

له همدی ځایه ده چی ښاغلی اندرفورت د خپل ساختګی قهرمان په اړه هم بی معلوماتو دی که پدی اړه د معلوماتو کومه بله مرجع نه وی د جنرال ګروموف کتاب دی ولولی ښایی چی ،معلومات یی بو څه بشپړ شی.

پټې پانې

شهرت ننګیال

واکمنی کی په وار وار دا خبره کوله چې اسلام ته احترام لری ، خو د هغوی احترام تولو د سر په سترګو ولید .

ښاغلی اندرفورت وایی : افغانانو له خپلی خاوری نه د شورویانو په ایستلو لوی بری او ویاړ وګاټه ، موږ د هغو نتایجو ډیر ممنون یو چې د افغانانو د جهاد له کامیابی نه راووتلی او د افغانانو پوروړی یو ، خو امید دی چې طالبان په جهاد کی زموږ مرسته او ملاتړ هیر نه کړی.

ښاغلی اندر فورت ښایی دلته د زړه

تیف ـ نو : هغه حسان بدله متحده ایالاتو د شوروی اتحاد له توټی کیدو وروسته په ډیره ښه ت ګ ـ رګ ـ ړه ، هغه چی افغانستان یی د ته یک ـ و : جګړه مارو په منګولو کی پریښود او ترډی دسه هـ له هغوی سره اړیکی او د دلوم ـی سپیټو ی جـ ی ساتی.

اسنا ـ په جهـ د کی د متحده ایالاتو مرستـه ا، ما ـ ر نه میرو ی او که یی فرضاً هیر هم کړی د اندرفورت په وت امریکا د افغانانو د جهـ د ـه ساتحـو ستونه دداو څه یی چی غربنشر هغه ی ـ رختـه ر لاسه کړی دی خو دا

د افغانستان د خپلواکی د بیرته اخستلو د (اتیا) یمی کلیزی په مناسبت د جرو ـ ـمو ـ ی ا ا ری د مرستیال محترم ملا محمد حسین مستسعد وینا

نیټه ۸/ ٥/ ۱٤۲۰ هجری قمری ۲۸/ ٥/ ۱۳۷۸ هجری ـ ـ ی ـ ل ـ فغانستان

پرلپسي

د افغانستان د خپلواکی په ګټلو کی د علماو لاربنوونه او د هغوی اثرات

د افغانستان د استقلال لپاره او فی الجمله له انګریزانو سره د جهاد په وجه د یادونی وړ دی ، ددی علماو آثار اوس هم ډیر ځایونه شته لکه په کندهار کی د شهیدانو د چوک ، شهیدان چې اوس یې هم هلته په ویاړ مناره لرو د انګیرزانو سره د مقابلی لپاره را وتلی ، شهیدان شوی دی.

د هغو شهیدانو اکثریت د مدرسو او مسجدو طالبان تشکیلوی ، چې په تشو لاسویی د انګیریزانو پر قواوو حمله وکړه او په هم هغه ځای کی شهیدان او ښخ شوی دي.

۲ – د خپلواکی د بیرته اخستلو په غزا کی په دریو واړه محاذو کی د علما وو ونډه : لکه مخکی چې مو په اجمالی شکل د انګریزانو پر ضد د علماو مبارزی او مجاهدی ولیکلی اوس ضروری ده چې ، د موضوع په ارتباط یعنی د خپلواکی په اخیستلو یا د افغانانو او انګریزانو د دریمی جګړی حالات او په هغه کی د علماوونډه د هغوی حسن تدبیر او د ملت په را پاڅونو کی د هغوی رول په تفصیل سره ولیکل شی.

کله چې امان الله خان د خپل پلار له مړینی وروسته د پاچاهی اعلان وکړ او د کابل د شوربازار د حضرت صاحب نور المشایخ فضل عمر مجددی علیه رحمة لخوا د کابل د عید ګاه په مسجد کی هغه ته د پادشاهی پګړی ور پر سر کړل شوه نو په هم هغه ورځ او هغه میدان کی یې د افغانستان د خپلواکی اعلان وکړ او څرنګه چې پخوا د هغه د نیکه او پلار په وخت کی د افغانستان په خارجی سیاست کی خپلواکی نه لرله او د انګلیسانو د والیانو په ډول یې یوازی داخلی خود مختاری لرله ، امان الله خان د اجرآت وکړ او د افغانستان د خپلواکی او استقلال

اعلان یې وکړ ، په دې اعلان کی نه دې یوازی وو بلکه په دې کی دده تر شا علما روحانیون ، ملی مشران او بالاخره ټول غیور ملت ولاړ وو ، بالمقابل انګلیسانو د افغانستان استقلال او نوی حکومت په رسمیت نه پیژندی ، او په اصطلاح د جنګ خاشه یې واخسته ، او غوښتل یې چې پر افغانستان باندی حمله وکړی او د افغانستان د خپلواکی اعلان او غوښتنه رد کړی ، په همدی خاطر د افغانستان حکومت او ټول ملت د خپل هیواد د دفاع په فکر کی شول ، او د افغانستان لپاره د دوو خوا د سپه سالار محمد نادر شاه د جنوبی افغانستان لپاره او سپه سالار صالح محمد خان د ختیځ زون یعنی جلال آباد او د خیبر د دفاع لپاره معلوم کړل شول د کندهار په محاذ کی د سپین بولدک پر قلعه جدید باندی انګریزانو خپله حمله د چمن له لوری وکړه او پخوا له دې چې په کندهار کی مجاهدین سره منظم شی د سپین بولدک قلعه یې د مجاهدینو له زیات مقاومت څخه وروسته ونیوه خو هلته هم مجاهدینو زیات مقاومت وکړ او قربانی یې ورکړی کندهار محاذ کی وروسته یوه لویه قوه تیاره شوه او له بیلا بیلو سیمو څخه د علماو په دعوت او د جهاد په مینه ډیر خلک او مجاهدین سره یو ځای شول ، د کندهار د سلګونو علماو له جملی څخه د ارغنداب محمد رسول آخند زاده صاحب ، محمد حسن آخندزاده صاحب ، عبدالحمید آخندزاده صاحب ، ډیر مشهور دی پورتنیو علماو د خپل علمی او روحانی نفوذ په وجه زیات شمیر طالبان مریدان او نور متعلقین د جهاد لپاره آماده کړل ، او په زړ ... هاو تنه قوه یې تیاره کړه ددی قوی دومره

تاثیر وو چې انګلیسان په چمن او کویټه کی هم په تشویش کی شول خو د امان الله خان د متارکی او له انګریزانو سره د مصلحی په وجه دا قوه معطله او جنګ یې ونه کړ ، د جنوبی سیمو خوست او پکتیا د محاذ لپاره چې کله امان الله خان سپه سالار محمد نادر شاه خان ته قوماندهٔ وسپارله نو هغه پخپله له خپل ځان سره د کابل د شوربازار حضرت صاحب فضل محمد مجددی شمس المشایخ علیه رحمة او نور المشایخ فضل عمر مجددی علیه رحمة وغوښتل او امان الله خان ته یې وویل چې : بکمال ذوق و محبت حاضرم که برای وطن خود درین موقع نازک علی الفور برای جهاد عازم سمت جنوبی شوم ، تنها اجازه خواهیم که ارجمند شاولی خان رکاب باشی و شاه محمود خان و جناب حضرت صاحب شور بازار با خود ببرم ، – څرنګه چې حضرت صاحب نور المشایخ «رح» او د هغه ورور شمس المشایخ «رح» د پکتیا او خوست او پکتیکا غزنی او زابل کی زیات علاقه مندان او مریدان لرل په دی اساس ... د هغـ د د استقلال لپاره د هغوی ... حضرت صاحب نور المشایخ «رح» د انګریزانو په مقابل کی ... شهـ ... دی اساس د مجاهد ... حضرت صاحب د یوه مهم ... او د دوی د ګ ... او ... سیمو کی د جهاد د دعوت په ... کی ور کړ شول.

د روزن ... مبارکی ... په ۱۱ نیټه د ز ... د حضرت روحـ ... پر ... باندی پر زرګو و مجاهدین ... حضرت نور المشایخ «رح» هغوی ته پخپله وینا کی د

جهاد او غزا اهمیت د وطن د استقلال ضرورت او د افغانستان تاریخی او سابقه داسی بیان کړه ، برادران حقیقی و دینی خالق کون و مکان بنده گان اصیل خود را که مسلمانان اند امر اکید به جهاد میفرمایند و نیز غظلت در مقابل کفار و منافقین را به مسلمانان ارشاد می فرماید ، و هم ولایت خاصه و عامه کفار را از مسلمانان سلب نموده و مسلمانان را مرو صاحب اختیار تامه معرفی مینمایند ، مملکت افغانستان که از وقتیکه احمد شاه ابدالی سلطنت آنرا بر اصول دین اسلام نهاده غلامی را قبول نه کرده – په یوه بله وینا کی یې چې د افغانستان د مخکی حکومتونو نیمه غلامی څخه یې شکایت کاوه او د انګریزانو سیاسی تسلط یې غانده و فرمایل : ما این قبا ها را که مقراض حرص و ظلم بر ما بیچارگان مشرق زمین بخیال پوچ خود در لندن و در شهر های دیگر نصرانیت بریده و ساخته اند هیچ گاهی بر دوش نینداخته و نخواهیم انداخت ، سبحان الله چی افتخار بزرگ است اگر شهید شدیم جنت الفردوس جای ما است و اگر زنده و مجاهد ماندیم باعث سعادت دارین ما است .

چنان سعادتی که قدسیان را بر ان غبطه آید ، امروز ملت و عسکر پیرو جوان شیخ عالم دهقان و خان و متفق الکلمه استم و میگونیم که استقلال خود را به فدا کردن نفس ، مال اولاد عیال و احفاد بدست می آوریم ، فقیر التجا

میکنم که امروز تمام اقوام افغانستان نعره جهاد استقلال و اعلان جهاد را لبیک گوید ، از اقوام سلیمانخیل به تعداد ششهزار جوان داخل میدان جنگ شدند .

پاتی لري

د مخالفینو ملي خیانتونه

بریښنا ورانګه

په تېرو څو کلونو کی کـه څه هم د رباني مسعود ائتلافي ډلګی، له اسلام افغان مجاهد ولس او ګران افغانستان سره ډېری جفاګانی وکړی، د مجاهد تر سپېڅلی نامه لاندی یی د اسلام د سپېڅلو غوښتنو پر خلاف هر ناروا ته ملا تړلی ودریدل ، پر ځوریدلی افغان ولس باندی یی د سره پوغ شوی ظلمونه یو ځل بیا تکرار کړ او د هیــواد هری ودانی تـه یی نه زغمیدونکی تاوانونه واړول ، خو بیا هم د یو څه وخت لپاره داسی خیال کیده چی ممکن رباني- مسعود او نور اندیوالان به یی ژر یا وروسته په حال راشی ، له خپلو تیرو کرغیړنو کړو وړو به لاس په سر شی او نور به د خپل ولس او ګران هیواد د تباهی لامل ونه ګرځی ، په همدی هیله هر کله چی لاره هواره شوی، د افغانستان اسلامی امارت له هغوی سره خبرو اترو ته تیاری ښودلی او د روانو ستونزو د سوله ایز حل لاری د موندلو په تکل یی هیڅ شان هڅی نه دی سپمولی، اما څرنګه چی لیدل کیږی هغوی ورځ په ورځ له پوا نه نور هم تاوده کیږی ، نه د اسلامی احکامو خیال ساتی، نه د هیوادوالو ځوریدلی حالت ته ګوری او نه هم د هیواد ورانی ویجاړی پر دوی کومه اغیزه اچوی، د افغان مجاهد ولس له هر دښمن سره تر څنګ درېږی ، هغوی ته خوش آمد کوی او د افغانستان د لا ورانی لپاره یی رابولی، د امریکی د توغندیو برید ستایی، له روسانو سره چی زموږ د دوه ملیونو شهیدانو قاتلان دی راز راز معاملی کوی او د هیوادوالو د وژلو لپاره لا نوری خطرناکی وسلی تر ینه تر لاسه کوی او هندوانو ته ننواتی ورځی تر څو د افغانانو په بی کوره کولو کی له دوی سره مرسته وکړی دا خو لا پریږده چی اوس اوس لا یو څه نور هم پایڅی پورته کړی او داسی شرمونو ته یی ور ور کړی چی د هیڅ مسلمان افغان ضمیر یی نشی زغملی د قدرت د تر لاسه کولو په خوب کی یی هر راز خیانت ته ملا تړلی ده او په دی لاره کی یی هیڅ معیار، اصل او یا قانون ته په درنه سترګی نه دی کتلی، له یوی خوابی د یوه لیک په ذریعه چی د مخالفی ائتلافی ډلګی د شمر استاد رباني لخوا پری لاسلیک شوی وو د اسلام له ستر دښمن اسرائیلو څخه یی د ځان د پوځی او مالی ملاتړ غوښتنه کړی او په بدل کی یی د اسرائیلو د یهودی حکومت د په رسمیت پیژندلو او هغوی ته یی په راتلونکی کی د سفارت او قونسلګریو د ورکولو وعدی ورکړی چی دا په خپل ذات کی د ټولی اسلامی نړی خصوصاً د فلسطینی مسلمانانو په حق کی یو ستر خیانت ده او د لکهاو غربی او نورو هغه مسلمانو مجاهینو له وینو سره چی د بیت المقدس د بیا خپلواکی په لار کی یی د سرونو قربانی ورکړی یوه تاریخی جفا ده خو رباني صاحب هغه ته ملا تړلی ده !! له بلی خوا د ائتلای ډلګی استاځو د هندوانو لمنی ټینګی نیولی او تر هغه یی زاری ورته کړی تر څو هغوی دی ته تیار شی چی د افغان مجاهد ولس سره په خپلی دښمنی کی توند والی راولی.

په دی وروستیو کي د هند حکومت، هغه هیواد ته د آریانا افغان هوایی شرکت د الوتکو پر الوتنو بندیز ولګاوه او په دهلی کی د رباني استاځی د هند دغه پریکړه وستایله او ددی فیصلی تعمیل یی ضروری وباله، حال دا چی آریانا افغان هوایی شرکت د افغان مظلوم ولس د بیت المال له پانګی څخه جوړ شوی شرکت ده، او له عوایدو څخه یی د نوموړی شرکت د لا سمبالتیا ، د هیواد د هوایی ډګرونو د لا عصری کولو او د هیواد د بیا ودانولو په لاره کی ګټه اخیستل کیږی چی متاسفانه د رباني ډلګی پورتنی کارونه د خپلو اصولو خلاف بولی او ددی بهیر د بندولو په هیله هلی ځلی کوی !! ښایی د ملیشو مشران دغه کړه وړه خپل سیاسی تحرک وبولی او د ځان لپاره یی بریالیتوب وګڼی ، خو د سیاسی څیړونکو له نظره دا د هغوی یوه ستره ناکامی او د تباهی وروستی پړاو ده دا ځکه چی نړیوال په دی عقیده دی چی د خپل هیواد د ورانولو او خپلو هیوادوالو د وژلو او ځورولو په غرض له بهرنیانو څخه د مرستی غوښتل د یوی سیاسی ډلی د مریتوب ستره نښه ده او کوم سیاسی خوځښتونه چی د پردیو د غلامی کړی خپلو غاړوته پریږدی هیڅکله هم نړیوال او ملی حیثیت نه لری او هیڅکله به هم د خپلو ولسونو له لوری ونه منل شی.

د قلعه جواد د حضرت صاحب نورالمشایخ «رح» په وبار

منبع د فیض وه دی ځای نه نهرونه بهیدل
فضا کهکشانی وه تری لمرونه ځلیدل

صعود و له هبوطه د عرفان په تناوونو
محفل عاشقانه و پټ رازونه لوځیدل

مستی وه بی خودی وه رازو نیازو د عشاقو
غورځنګ و د مستانو ویده زړونه ویښیدل

وه نور د مشایخو پری ښایسته قلعه جوادو
څراغ د معرفت و تری ملکونه رڼیدل

دی بن کی یی له فیضه د بر ګلان وغوړیدلی
وږمی یی تلی هر لوری ته عطرونه خوریدل

فرزند ارجمند دده ضیاء المشایخ و
دده د فیض له برمه تورتمونه ورکیدل

یو جوش و یو خروش و د وحدت په باغچو کی
هر خواته د وحدت تازه ګلونه غوړیدل

دی بڼ د ریاضت کی تو کیدل رنګ رنګ ګلونه
له پاسه د رحمت پری بارانونه وریدل

زه هیڅ وم ددی در په برکاتو «ګوهری» شوم
دی بحر د عرفان کی سره لالونه مالیدل

سفر نامه

از کابل تا تاشکند

دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان

در اجلاس گروه ۶+۲ منعقده تاشکند

۵

احمد ضیأ "شریفی"

ختم وقفه و ادامه جلسه

در ادامه، جلسه نمایندگان کشور های ۶+۲ بالترتیب چین، ایران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان، روسیه، امریکا، ازبکستان بیانیه هاي خویش را ابراد نمودند که بیانیه هاي ایشان در روشني اعلامیه تاشکند ترتیب گردیده بود که در همه بیانیه ها زیاد تر روي موضوعات ختم جنگ و آمدن یك صلح دایمي در افغانستان تاکید صورت گرفته بود که بخاطر ختم جنگ و آوردن صلح پیشنهاداتي داشتند که عبارت از :

١- آتش بس
٢- تبادله اسراء
٣- قطع ارسال اسلحه
٤- آغاز مذاکرات و ادامه آن
٥- ساختن حکومت با قاعده هاي وسیع ، مي باشد.

همچنان در بیانیه هاي نمایندگان کشور هاي ٦+٢ در رابطه به تروریزم و مواد مخدر اشاره گردیده بود.

بعداً اعلامیه کنفرانس منتشر شد و تمام اعضاي ٦+٢ آن را امضا نمودند به استثناي ترکستان.

اعلامیه تاشکند

در اعلامیه آمده است که حل معضله افغانستان از راه نظامي وجود ندارد و حل این مشکل از طریق مذاکرات سیاسي امکان پذیر است که این مذاکره سیاسي به ساختن یك حکومت وسیع البنیاد منتج گردد و هر دو جناح امارت اسلامي **افغانستان و مخالفین به مذاکرات آغاز نمایند.**

همچنان بخاطر کمك به خاتمه بخشیدن مخاصمات، گروه هاي ٦+٢ توافق نمودند که از هیچ جناح افغاني حمایت ننمایند و اجازه داده نشود تا از قلمرو کشور هاي شان به این مقاصد استفاده صورت گیرد ، و از مجامع بین المللي خواسته شد که تا تدابیر مشخص را به منظور جلوگیري از ورود و توزیع سلاح ها به داخل افغانستان اتخاذ نمایند و ما کشور هاي ٦+٢ از آغاز و ادامه مذاکرات حمایت و پشتیباني انفرادي و جمعي خویش را ابراز مي نمایيم.

هکذا در این اعلامیه آمده است که پروسه مذاکرات باید تحت نظر ملل متحد صورت گرفته و مشتمل بر دو مرحله باشد :

الف - هدف عمده مرحله اول اتخاذ تدابیري است تا طبق آن اعتماد متقابل بین امارت اسلامي افغانستان و جبهه متحد ایجاد گردد که چنین تدابیر داراي محتوي ذیل مي باشد :

- انعقاد مذاکرات مستقیم بین نمایندگان با صلاحیت امارت اسلامي افغانستان و جبهه متحد روي موضوعات تبادله اسراي جنگي ، آتش بس، باز نمودن شاهراه ها به منظور تجارت و توزیع کمك هاي بشري .

ب- هدف مرحله دوم مذاکرات پي ریزي اصول اساسي جهت ساختار و تشکل دولت داراي قاعده هاي وسیع که نمایندگي از همه اقشار و ملیت ها نموده بتواند مي باشد.

همچنان در اعلامیه از کشور هاي همسایه افغانستان ابراز آرزومندي گردیده است که تدابیر مشترك موثر و هم آهنگ را جهت جلوگیري و مجادله علیه قاچاق مواد مخدر، اتخاذ نمایند.

در اعلامیه آمده است که امارت اسلامي افغانستان باید از نتایج تحقیقات شان در مورد کشته شدن دیپلومات ها و خبرنگار ایراني، ملل متحد و ایران را مطلع سازند و از امارت اسلامي افغانستان تقاضا گردیده است که در قسمت مجازات نمودن مجرمین همکاري همه جانبه نماید.

همچنان در اعلامیه در مورد یك سلسله کمك هاي مادي، پولي و اقتصادي در رابطه به کمك عاجل به مردم افغانستان از مجامع بین المللي درخواست شده است .

هکذا در اعلامیه حمایت از پاککاري ماین توسط مؤسسات مختلف ابراز گردیده است.

پایان برنامه، قبل از ظهر اجلاس ٦+٢

بیانیه هاي نماینده گان کشور هاي ٦+٢ با صدور اعلامیه حوالي ساعت ١٢:٣٠ به وقت محلي پایان یافت.

متقي صاحب و من هر دو به اتاق ٨٠٩ که محل اقامت متقي صاحب بود آمدیم و متقي صاحب براي عالیقدر امیر المؤمنین تیلفون نمود و از جریان کنفرانس برایشان معلومات ارائه نمود و گفت این فرصت مناسب است که با نماینده گان با صلاحیت کشور هاي همسایه ملاقات نمایم، نظر شما چطور است ؟

عالیقدر امیر المؤمنین در جواب گفتند که متقي صاحب مصاحبه شما را دیشب از طریق رادیو استماع نمودم خیلي خوب از موقف امارت اسلامي افغانستان دفاع نمودید و از طرف من کلاً صلاحیت دارید که هر کار که مي‌کنید بکنید من بالاي شما اطمینان کامل دارم و براي مؤفقیت شما دعا میکنم .

متقي صاحب رو به طرف من نمود و گفت زمینه مناسب است براي تشریح موقف امارت اسلامي افغانستان براي کشور هاي همسایه و ما میتوانیم که اذهان اینها را در مورد امارت اسلامي افغانستان روشن نمایيم .با ایشان صحبت کن و ملاقات ترتیب کن .

نماز ظهر را با جماعت در اتاق متقي صاحب ادا نمودیم و بعد از صرف غذا ساعت ٢:٢٥ دقیقه دو باره وارد سالون کنفرانس شدیم.

آغاز برنامه بعد از ظهر اجلاس ٦+٢

جلسه بعد از ظهر ساعت ٢:٣٠ دقیقه آغاز شد ، بعد از سخنان مقدماتي آقاي اخضر ابراهیمي ، داکتر عبدالله بیانیه خود را به لسان انگلیسي قرائت نمود، که در قسمتي از بیانیه موصوف چنین آمده بود : همه به این عقیده هستند که معضله افغانستان از راه نظامي حل نمي‌گردد مي توان آن را از راه سیاسي حل نمود ، بخاطر حل معضله افغانستان مهم است که اولاً یك آتش بس صورت گیرد و هم‌زمان با آن یك حکومت با قاعده هاي وسیع تشکیل گردد که در آن تمام گروپ هاي اقلیت شامل بوده و از طرف ملل متحد به رسمیت شناخته شود.

موضوع دیگر که در بیانیه داکتر عبدالله توجه ام را به خود جلب نمود این بود که جناب داکتر صاحب گفتند: بعد از ساختن یك حکومت وسیع البنیاد در افغانستان پارلمان باید تشکیل گردد و زنان در آن عضویت داشته باشند طوریکه زنان حقوق نفوس افغانستان را تشکیل میدهند باید در حکومت جدید از حقوق خود برخوردار باشند که شمولیت زنان در کابینه یك ضرورت است .

داکتر عبدالله که به نماینده‌گي از جبهه متحد و گاهي به نماینده گي از گروه مسعود سخن میگفت شاید نیت نیك داشته باشد ولي آنچه اهمیت دارد، دانستن این امر است که هیچگاه نمیتوان با مغز پر از اندیشه هاي جنگي و با دست پر از اسلحه از حل سیاسي سخن گفت زیرا سیاست با اهل سیاست مي شود، و اهل سیاست کساني اند که وقتي که حکومت را در سراسر کشور داشتند و از قدرت زیاد برخوردار بودند و جهان آنها را به رسمیت مي شناخت آنها میتوانستند از فرصت استفاده نموده ،در راه حل سیاسي میکوشیدند و جامعه را رهبري میکردند. و باعث این همه بد بختي ها و خونریزي هایي که تا امروز ادامه دارد نمیگردیدند . متأسفانه آنها هیچگاه نه تنها اهل سیاست نبوده اند بلکه نکوشیده اند تا سیاستگر و سیاستمدار را در دور و پیش خود نگهدارند، زیرا کارنامه پنج ساله آنها در کابل نشان داد که سیاست به نظر آنها یعني دروغ و تزویر و قلع و قمع هر نیروي فکري که در جامعه موجود بود.

یکي از کار هاي ضد سیاسي و ضد فرهنگي شوراي نظار همانا در افتادن آنها با بنیاد فرهنگي و تعاون اجتماعي امام محمد غزالي(رح) بود که میخواست سیاست را به شیوه اسلامي اشاعه بدهد اما از طرف شوراي نظار مورد حمله قرار گرفت و هیچ کس نبود که از آن به عنوان یك مرکز فرهنگي و سیاسي دفاع نماید.

ادامه دارد

گزارش خبرنگار هفته نامه شريعت از شفاخانه ...

است مرض اسهالات اطفال مي باشد كه ضياعات آب و نمك وجود طفل در اثر استفراغات و اسهالات زياد شده و در اثر بي-تفاوتي والدين مريض اكثراً به سپتيسيمي مبتلا شده يعني انتان يا مكروب داخل جريان خون مريض گرديده كه در اين حالت فيصدي تلف شدن طفل را بيشتر فراهم مي-نمايد.

تا جايي كه به مشاهد رسيده در اطفا ل شير خوار بيشترين عامل انتقال دهنده اسهالات استفاده از چوشك شير و چوشك دهن مي باشد كه اين دو عامل بزرگ انتقال دهنده مكروب ها براي طفل بشمار ميرود با استفاده از همين مصاحبه براي همه بي مادران توصيه ميداريم كه حد امكان اطفال خود را با شير خود تغذيه نمايند زيرا از يكطرف شير مادر پا ك و عاري از مكروب هابوده و در پهلوي اينكه چه رول مهم را در اقتصاد خانواده دارد هميشه آماده و حاوي از ويتامين ها و مواد غذايي كافي مي باشد. شير مادر معافيت و-مقاومت وجود طفل را بلند برده و طفل را از مصاب شدن به امراض مختلف جلوگيري مي-نمايد و مهمتر اينكه يك رابطه عاطفي را بين مادر و طفل بر قرار ميسازد و مادران بايد بخاطر داشته باشند كه جهت تهيه غذاي طفل و قبل از شير دادن دستان خود را با آب و-صابون بشويند. و زماني كه متوجه ميشوند طفل شان مصاب به اسهال است عاجل به كلينيك نزديك محل مراجعه نمايند و مطابق هدايت داكتر عمل نمايند. همچنان پاكت هاي ORS براي اسهالات اطفال مثمر و بدون زيان بوده و مادران بايست يك پاكت ORS را در يك ليتر آب جوش داده شده سرد كه معادل چار گيلاس آب لبريز مي شود مخلوط نموده و بعد از هر عمل طفل نيم تا يك گيلاس آن براي طفل داده شود. در اخير براي همه، مادران ياد آور مي شويم كه فوق العاده نظافت و حفظ الصحه فردي و محيطي خانواده خويش را در نظر داشته باشند.

سلطانه «رحيم»

د افغان نساجي عامل رئيس محترم قاري رحمن ولي ...

کی تر سره کړی ده .

پوښتنه : د افغان نساجي سهامي شرکت د مشترکینو شمیر ، وندي او د تاسیس د مهمو اهدافو په اړه معلومات راکړی؟

ځواب : د افغان نساجي ونده وال شرکت چي په ۱۳۱۵ کال کی تاسیس شوی دی د څلورو زرو څخه زیات شریکان لری چی په دی کی ملی تجاران او تجارتی شرکتونه شریک دی. دغه شرکت بوه ځانګړی اساسنامه لری چی ددی اساسنامی له مخی خپل کارونه سرته رسوی. د افغان نساجي شرکت ۷ نساجی فابریکی لری چی په دی فابریکو کی تاری او سندی توکران تولید کیږی دا فابریکی ځینی په مرکز او ځینی په ولایاتو کی دی چی د ګلان- پروان او کاپیسا په ولایاتو کی د پلخمری - کلبهار او جبل السراج فابریکی او د دی شرکت نوری څلور فابریکی چی عبارت له بافت کابل-نساجی کابل، نختی کابل او د ګذرګاه څخه دی په مرکز کی جوړ شوی دی او بوه د آکسیجن جوړولو فابریکه هم لری.

پوښتنه : په تیرو جګړو کی افغان نساجي ته څومره زیان رسیدلی دی او کومی برخی ډیری زیانمنی شوی دی؟

ځواب : په تیرو جګړو کی د افغان نساجي ته زیات تاوانونه رسیدلی دی مورد ځینی مشکلاتو له کبله په پوره توګه د هغه حسابی نده تر لاسه کړی خو ویلی شو چی تقریباً ۳۰ ملیونه امریکایی دالر د افغان نساجي ته تاوان اوښتی دی او ځینی فابریکی یی ببخی له منځه تللی دی لکه د ګذرګاه د توکر او د آکسیجن جوړولو فابریکی.

پوښتنه : د افغان نساجي د تاسیساتو او فابریکو د بیا احیالپاره مو څومره کار کړی دی؟

ځواب : د افغاني نساجي څو فابریکو په اوسنی وخت کی عملاً په کار شروع کړی ده د کابل د بافت فابریکه، د پلخمری توکر او تار جوړولو فابریکی او ګابل د رنګ ورکولو فابریکه او په نورو فابریکو باندی هم زمونږ کار منظم روان دی هیله ده چی ژر جوړ شی.

پوښتنه : تاسی د خپلو منسوجاتو لپاره خام مواد له کومه ځایه لاسته راوړی؟

ځواب : اومه مواد له خارج او داخل څخه تر لاسه کوو کوم مواد چی موږ له خارج څخه واردوو په تر لاسه کولو کی یی له زیاتو ستونځو سره مخامخ کیږو .

پوښتنه : تاسی خپل اوبدل شوی توکر چیری او د بازار په مقایسه په کوم نرخ پلورئ؟

ځواب : په اوسنی وخت کی موږ خپل اوبدل شوی توکر په مناسبه بیه خپلو وطنوالو ته ورکوو د مورد ځینی مشکلاتو له کبله د خارجی فابریکو سره سیالی نه شو کولی که چیری خدای «ج» زمونږ دا ستونزی حل کړی کولی شو چی خپل توکران بهر ته هم ولیږو .

پوښتنه : په خپلو کارونو کی له کومو ستونزو سره مخامخ یی؟

ځواب : ډیر زیات مشکلات لرو چی ددی مشکلاتو د مخنیوی لپاره پوره پانګی ته ضرورت دی او دغه مشکلات د پانګی د شتوالی په صورت کی حل کیدای شی.

پوښتنه : د کارګرانو او مامورینو ته څومره معاش ورکوی او آیا په خپل وخت ورته تادیه کیږی؟

ځواب : زموږ د کارګرانو او مامورینو معاش په بوه میاشت کی ٥٤٥ ملیونه افغانی کیږی چی میاشت په میاشت یی ورکوو .

پوښتنه : د کارګرانو او مامورینو شمیر مو پخوا اوس څومره دی؟

ځواب : د کارګرانو او مامورینو تعداد سابق تقریباً لسو زرو کسانو ته رسیده او اوس تقریباً ۲۰۰۰ کسانو په خوا اوښا کی دی.

پوښتنه : ستاسی ورځنی تولید څو مترو ته رسیږی او کوم کوم ډول توکر جوړی؟

ځواب : د ځینی مشکلاتو له کبله اوس زموږ ورځنی تولید ۱۷ زره مترو ته رسیږی که خدای زموږ مشکلات حل کړی ان شاء الله په آینده کی به زیات شی اوس تاری او سندی توکران تولید وو .

پوښتنه : د افغان نساجي میاشتی عواید څو افغانی ته رسیږی؟

ځواب : د افغان نساجي چه اوس یی په عاجل فعالیت ۰لاس پوری کړی او په قسمی ډول فعالیت لری میاشتی عواید اوس ۱۳۹ ملیونه افغانیو ته رسیږی

پوښتنه: آیا له توکر پرته نور مصنوعات هم لرئ او که نه؟

ځواب : لکه څرنګه مو چی په دوهم ځواب کی هم اشاره وکړه موږ د تاری او سندی توکر څخه پرته بوه د آکسیجن جوړولو فابریکه او بوه پلاستیک فابریکی هم لرو .

پوښتنه : په خلاصه ډول که وویل شی چی تاسی کومی فابریکی ترمیم او کار ته چمتو کړی دی؟

ځواب لومړی خو د افغان نساجي څو لوبو فابریکو لکه د پلخمری، بافت کابل، نساجی کابل او نختابی کابل فابریکو عملاً په فعالیت شروع کړیده او د نساجی کابل توکر د رنګ ورکولو فابریکه هم فعاله او د ګنی اخستو لپاره چمتو ده.

پوښتنه : په راتلونکی کی څه پلان او تصمیم لری؟

ځواب : په روان کال کی د پلخمری ، بافت کابل فابریکی په منظم ډول فعالیت کوی که چیری موږ پوره پانګه تر لاسه کړه انشاء الله نورې فابریکی به یوه په بله پسی فعالی کړو او د ګټو لپاره به برابری شی. اوس هم زموږ فنی او تخنیکی نفر په دی فابریکو باندی کار کوی او منظم پروګرامونه مو شروع کړی دی.

د مخالفينو تر ظلم لاندې ...

مسعود پر افرادو حملي كوي او هغوي په دې پوهوي چي بايد ژر تر ژره د پروان ولايت له اړوندو سيمو څخه ووځي وبل كسېږ چي د تيري جمعي په شپه د چاريكارو ددة مسكين په كلي كي نا معلومو كسانو په سيمه كي د مسعود پر بوه ګرزنده ګروپ ډزي كړي او د هغوي قوماندان يي سخت ټپي كړيدي .

په پاي كي دغه عيني شاهد وايي چي دا خبره په ټوله شمالي كي عامه او خبره شوي چي كه د سيمي خلك غواړي ژر تر ژره د سوله ايز ژوند څښتنان شي نو د مسعود مليشي چي په سيمه كي د جګړو د دوام عاملين دي بايد ژر تر ژره د شمالي له پاتي سيمو څخه وشړي ، همدا دليل دي چي په دي ورووستيو كي د نظار ولګي پر مليشو باندي ځاي ځاي مسلحانه حملي پيل شوي دي.

فارم تحقيقاتي ...

اصلاح شده نوع «دارالامان چهار» بذر گرديده كه قبلاً حاصل آن برداشته شده و آماده توزيع به دهاقين ولايات همجوار كابل ميباشد.

خبر مي افزايد: در ساحه شش هكتار زمين سبزيجات مختلف النوع از قبيل كچالو ، پياز، بادنجان رومي و غيره بذر گرديده است .

منبع افزود: اميدواريم تا بالأثر توجهات هر چه بيشتر مقامات وزارت زراعت و جلب همكاريهاي سازمان مواد خوراكه و غذاي جهان و ساير نهاد هاي بين المللي بتوانيم از طريق اين فارم با توزيع تخم هاي اصلاح شده بذري به تمام دهاقين و هموطنان زراعت پيشه خويش مصدر خدمات ارزنده ئي شويم.

د شاكر سهامي شركت ...

كړيدي. د شاكر د سهامي شركت رئيس محترم الحاج ظاهر الدين په دې اړه د شريعت اوونيزي خبريال ته وويل : د شاكر سهامي شركت د صابون جوړولو فابريكه چي د جلال آباد په ښار كي موقعيت لري او دا څو كاله د هيواد والو په خدمت كي ده د كاليو د مينځلو د صابون تر برياليتوب وروسته په همدي نيږدي ورځو كي د زيتون په نوم د حمام يا مخان مينځلو صابون هم په ښه كيفيت توليد او بازار ته عرضه كړيدي.

ددي صابون د تركيب د موادو په اړه د بوي پوښتني په ځواب كي محترم الحاج ظاهر الدين وويل چي ددي صابون په تركيب كي عطر او وطني خالص زيتون شامل دي چي د طب له پلوه د هډوكو د درد مخنيوي كوي. نوموړي وويل چي نوموړي صابون سل گرامه خالص وزن او پنځه زره او پنځه سوه افغاني بيه لري . الحاج ظاهر الدين زياته كړه په پيل كي چي هيواد وال زمونږ له صابون سره بلد نه و نو له څه ستونزو سره مخ وو خو اوس الحمد لله له دي پلوه زمونږ ستونزي حل دي. نوموړي په پاي كي د اسلامي امارت له مقاماتو څخه مننه وكړه چي د سوداګرو تشويق او هڅوني لپاره يي هر اړخيزي اسانتياوي برابري كړيدي.

تيم فتبال پيروزي ...

ديدني علاوه از مسؤولين امور ولايت فارياب صد ها تن از علاقمندان ورزش اشتراك ورزيده بودند.

د زابل ولايت ...

هيواد له ټولو ولايتونو سره د زابل ولايت مخابروي اړيكي تامين او له دي امله ددغه ولايت د خلكو مشكلات حل او كولي شي په ټاكلو وختونو كي له خپلو مطلوبو مراجعو سره په تماس كي شي او خپل مطلب حل كړي .

شبكه آبرساني قريه ...

سه كيلو متر تلدواني گرديده است .

اين شبكه داراي مخزن پخته و اساسي به ظرفيت چهل متر مكعب آب ميباشد كه از طريق يازده شير دهن براي يك هزار و پنجصد نفر از اهالي آن منطقه آب صحي را توزيع مي نمايد.

مصارف مجموعي آن به دو صدو پنجاه مليون افغاني كه از مساعدت مالي و تخنيكي اداره يونيسف و امارت اسلامي افغانستان و همكاري داوطلبانه خود مردم ، بالغ گرديده است كه با تكميل اين شبكه مشكلات مردم ارگنه از نگاه فقدان آب صحي بكلي مرفوع گرديده است .

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

په امريكا كي ...

كلنتن د حكومت د نړيوالو او اقتصادي كاميابيو نه استفاده كوي، همدا راز د هغه بو بل مقابل كانديد د غربت مسأله راوړاندي كړي ده هغه په بوه انتخاباتي ميټنګ كي وويل چي دا مهال په امريكا كي څلوېښت مليونه كوچنيان په غربت كي ژوند كوي. هغه وويل چي د جمهور رئيس بش له دوري راوروسته په امريكا كي غربت ورځ په ورځ زياتيږي .

د كاسووا په غير ...

څمكني بشپړتيا او په صربستان پوري د بوه اړونده ولايت په توګه د كاسووا حالت د نه بدلون وړ كار دي.

اطلاعيه "د آريانا افغان هوايي شركت"

د آريانا افغاني هوايي شركت به خاطر سهولت و خدمت بيشتر به هموطنان متدين كشور در نظر دارد تا بر علاوه پرواز هاي پروگرامي هفته وار خويش در سكتور هاي داخلي هفته دو روز پرواز هاي ذيل را نيز عملي نمايد : ۱- هر روز شنبه پرواز مزار شريف، جلال آباد و جلال آباد -مزار شريف . ۲- هر روز چهار شنبه پرواز كندز - جلال آباد- و جلال آباد - كندز را عملي و اجراء نمايد.

هموطنان ما ميتوانند غرض معلومات بيشتر در ولايات به آمريت هاي نمايندگي آريانا در جلال آباد - مزار شريف و كندز مراجعه و حل مطلب نمايند.

تبصره

مخالفين تر څو د څه او چا لپاره جنګيږي ؟

د ټولی نړۍ او په ځانګړی ډول د افغانستان تاریخ جوته کړیده چی د خپل ولس په ضد د جګړی پایله تل د جګړه کوونکی په زیان تمامه شوی ده او ښکاره او زمونږ د سترګو تر وړاندی بیلګه یی د افغان مسلمان ولس په ضد د افغاني کمونستانو کودتاه او د وسلی استعمال بلل شو، هیوادوالو ولیدل چی د افغانستان د خلکو له دیانت ، ملی غرور، دود ، دستور او ملی عنعنی څخه نا خبرو او ناپوهو کمونستانو چی کله د خپل ولس او ملت په ضد د خپلو بهرنیو بادارانو د خوشحالی لپاره په افغانانو اور، بل کړ نو د ستم او ظلم څومره دولرته یی چی زده وو نو له افغانانو څخه یی ونه سپمول حتی د خپلو پلرونو ، وروڼو او هیوادوالو د وژنی لپاره یی قسی القلبه، بی رحمه او له انسانی عاطفی محروم او لیری روسان راوستل او افغانان یی دومره پړی وځورول تر څو چی یی وس رسیده، تر دی چی له نړیوالو څخه یی د چنګیز کیسی هیری کړلی خو څرنګه چی د دوی جګړه له یو خاص پانګی او یا خاص قبیلی سره نه بلکه له ټول افغان ولس سره وه نو نړیوالو ولیدل چی د افغان ولس میرانی او قهرمانی د نړی یو ستر ځواک له کوم بر خلیک سره مخ کړ ؟ تش لاسو خو د عزم ، ارادی او ایمان په وسله سنبال مجاهدینو څه ډول بوه اتومی امپراطوری له خاورو سره برابره او د نړی نقشه تغییره کړه . په افغانستان کی له روسانو او د هغوی له مزدورانو سره د افغانستان د مسلمان ولس له جګړو ښایی ډیرو خلکو او د ډیرو ځواکونو پند اخستی وی او باید چی اخستی یی هم وی. خو په ډیر تاسف سره باید وویل شی چی د افغانستان د اسلامی امارت د مخالفینو د عقل او شعور سترګی دومره ړندی دی چی له دومره لوی درس څخه یی هم څه زده نه کړل او همغه ناکام او شرمیدلی رول تر سره کوی کوم چی له دوی نه وړاندی کمونستانو خلقیانو او پرچمیانو تر سره کړ دوی باید له دی څخه درس اخستی وای چی خلقیانو او پرچمیانو له ولس سره له جګړو څه لاس ته راوړل ؟

د روسانو ، هندوانو او نورو کفارو مرستی هغوی ته څه وګټل چی دوی ته به یی وګټی ؟ د پردیو خدمت او چوپړ هغوی ته څه حیثیت پریښود چی دوی ته به یی پریږدی ؟ له دوی څخه د یو دریمګړی په توګه پوښتنو چی دوی به تر څو د خپل ولس او ملت په ضد جنګیږی ؟ آیا دوی په رښتیا هم خپل وجدان په دی جګړو قانع کولی شی ؟ کـه دوی دوایی چی موږ د اسلام د نفاذ لپاره جنګیږو نو آیا اسلامی نظام همداسی وی لکه دوی چی د خپلی واکمنۍ په وخت کی په دی ولس مسلط کړی و؟ آیا دوی په کابل کی د خپلی واکمنی په څلورنیمو کلنه دوره کی او په نورو هغو سیمو کی چی اوس هم د دوی تر کنترول لاندی دی یو حد هم تطبیق کړیدی، یو قصاص یی جاری کړیدی ؟

ایا کـه دوی په رښتیا هم شریعت غواړی نو سوچه او سل په سلو کی اسلامی شریعت خو اسلامی امارت نافذ کړیدی او په دی اړه پلمی یی بی ځایه دی.

کـه امنیت او سوکاله ژوند غواړی نو د اسلامی امارت د تر کنترول لاندی ساحو د امنیت بیلګه خو په هغو هیوادونو کی هم ... چی دوی په کمیسیونو کنترولوی. او دوست او دښمن ، مسلمان او کافر هم په دی ... معترف دی.

کـه د اقتصاد د ښه والی دعوه کوی نو دوی دی دوایی چی په دی اتو کالو کی یی پرته له دی چی هیواد په کنډوالو بدل کړی او د اقتصاد ټول بنسټونه او زیربناوی یی ونړولی نور څه کړیدی ؟ کومه خښته یی په بلی ایښی ده ؟ او د اسلامی امارت تر کنترول لاندی ساحو کی عمرانی چاری او هیوادوالو ته د کار زمینه برابرول هم د هر چا په وړاندی دی او ټوله نړی، خبره ده چی د مخالفینو تر کنترول لاندی سیمو کی د نور افغانستان په پرتله تر خونه څو چنده لوړ دی حتی ډیر د ورځنی اړتیا وړ مواد د سره موندل کیږی هم نه که دوی په فکر کی وی چی ښایی له مقاومت څخه به څه لاس ته راوړی نو د اسلامی اردو ورووستیو سوبو او پر مخګونو او د دوی ماتو او تجرید د دوی دا خیال او ګومان هم بی ځایه ثابت کړ . موږ د یو مسلمان او افغان په توګه یو ځل بیا دوی ته وایو چی د روسانو ایرانیانو او هندوانو په دروغجنو وعدو ونه غولیږی هغوی هیڅکله دوی ته ګټوری مشوری نه ورکوی هغوی هر یو ځانته نژادی ، ژبنی ، مذهبی ، سیـاسی ګرایښتونه او تمایلات لری او نن ورته خپلی ګټی وړاندی دی . دوی باید د چا په لمسون له خپل ولس سره ونه جنګیږی که نه د ملت لاس به یی اخر تر ګریوان وړ ورسیږی او ضرور به یی د محاکمی میز ته راکښوی او تری پوښتنی به چی د چا د ګټو او د څه لپاره یی وژنی او په اور یی سوځوی خبر که نن د دوی په سیمو کی ملت بی وسه دی نو دا وضعه تل همداسی نه وی څومره به ښه وه چی نن په پنجشیر او بدخشان کی همداسی شریعت او امنیت ټینګ وای لکه په ننګرهار ، مزار، هرات، کندهار او نورو ښارونو کی چی ټینګ دی، له دی او داسی نورو ډیرو هغو نعمتونو څخه دا ولس دوی محروم کړیدی چی نور ملت تری برخمن دی. دوی باید پوه شی چی د دوی کړغیړن اعمال د اسلامی نظام د نفاذ لپاره ستر ګواښ دی دوی هغه څه کوی چی هندوان ، ، روسان او ایرانی متعصبه واکمنان یی له ډیره وخته را په دی خوا هیله لری دوی باید دلته د روسانو او هندوانو د ګټو او اهدافو لپاره کار ونکړی ځکه دا بو ستر ملی خیانت دی هغسی خیانت چی ملت به یی مرتکبین هیڅکله هم معاف نه کړی. دوی ته باید یادونه وشی چی د افغانستان او د ټول اسلامی امت د جیدو علما و په فتوی باندی دوی د باغیانو په کتار کی دی نو په بغاوت کی ورځی او شپی تیرول د دنیا او اخرت د زیان سبب ګیږی .

و ما علينا إلي البلاغ

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press